مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

اکبربری

۲۰۲۱/۱۰/۳۱

# پټ رازونه

خاص ځلانده سر نه ته يې اونه زه يم
ځه د پوهې لمر نه ته يې او نه زه يم
دا بيځايه هوا وباسه له سره
هسک د علم غر نه ته يې او نه زه يم
کينه خلکو ته دا خوشي کيسې مه کړه
چې محرم د در نه ته يې او نه زه يم
دا تيارې به زه او ته هم رڼا نه کړو
څه عجيب بشر نه ته يې او نه زه يم
ما او تا نه مخکې ډير دلته ورک شوي
لدې تولو بر نه ته يې او نه زه يم
راشه دلته ځان د مځکې په کار پوه کړو
په اسمان خبر نه ته يې او نه زه يم
چې دا غوټې د دايم پټو رازونو
پرانيستای نه شو په تشو اټکلونو


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ